الا ان اولیاء الله لا خوف علیهم ولا هم یحزنون

بحر الانوار

مؤلفہ

عبدالرؤف نوشہروی

حضرت سید عبدالقادر جیلانی
حضرت خواجہ معین الدین چشتی
حضرت خواجہ نظام الدین اولیاء
[illegible]
حضرت جلال الدین تبریزی
حضرت سراج الدین عثمان رح
حضرت علاؤ الحق والدین رح
رح سید علی ترمذی رح (پیر بابا)
حضرت اخون درویزہ بابا رح
رح شیخ رحمکار (کاکا صاحب) رح
رح حاجی بهادر صاحب رح کوهاټ
حضرت اخون پنجو صاحب رح
حضرت جی صاحب رح اټک
شیخ حافظ عبدالغفور صاحب رح
حضرت میاں عمر صاحب رح
حضرت محمد شعیب صاحب رح
کوټهے ملا صاحب رح
حضرت بابا جی صاحب رح سوات
حضرت عبدالوهاب رح
(پیر مانکی شریف)
د بالاکوټ شهیدان رح
حضرت حاجی صاحب رح ترنګزی
خواجہ عبدالرحمن صاحب رح
چوهروی
خواجہ عبدالرحمن صاحب رح
د هډے ملا صاحب رح

عظیم پبلشنګ هاؤس
پښور

بحرالانوار

عبدالرؤف نوشہروی

عظیم پبلشنگ ہاؤس۔ خیبر بازار پشاور

اِهتمام * عظیمُ اللہ خان

مالک عظیم پبلشنګ هاؤس پېښور

چهاپه‌خانه * منظورِعام پریس پېښور



اَول ځل :- صَفر ۱۳۸۴ ھ

تعداد :- یَو زر (۱۰۰۰)

قیمت :- درے نیمے روپے

تړون

د خپلو ورو بچو جاوید، طاهر، ظفر، ناصر او عطاء په نوم چه په نني مادي دور کښې چه خلق د روحانیت نه لرے تښتي به د ژوند شپے ورځے تیره وي۔

ویرېږم هسے نه چه دا سیلاب ځما دا توسیه هم ځان سره لاهو کړي۔

کیدے شي چه دا کتاب د هغوئ د بچ کیدو سبب اوګرزي۔

عبد الرؤف نوشهروي

حاجی بہادر کوهاتیؒ

اصلی نوم یې سید عبدالله شاه دے د پلار نوم یې سلطانؒ سید محمد شاه وو. په آګره کښې په ۱۶ رجب سنه ۹۸۹ھ پیدا شو. د والد مقبره یې په آګره کښې ده. د حاجی بهادر رحمۃ الله علیه ورته وائي چه د حج بیت الله په موقع ورکړے شوے وو. د شپږو کالو په عمر کښې قرآن شریف ختم کړو. شیخ لقمان چه د حضرت په معتقدینو کښې وو. د هغه مور وائي چه څه وخت حضرت د قرآن د ختم ندبس د جماعت نه کور ته راغلو نو ما ورته یو خاص لباس پیش کړو. مګر دوئ انکار اوکړو. وے چه "دے لباس نه د غرور او تکبر بوئیں راځي". هغه وائي بیا مې ورله د عربو په شان لباس جوړ کړو. حاجی بهادر صاحب دا جامې واغوستې ډیر خوشحاله شو. او وئیلې چه "مور بي بي. دا جامې د حال په ژبه وائي چه زه هغه لباس یم کوم چه دوست د خدائ خوښ کړے وو".

په لږ کاله موده کښې د دوئ شهرت د ومره خور شو، چه خلقو د اورنګ زیب بادشاه غوږونه دکول شروع کړل. چه حاجی بهادر صاحب دعوے کړے ده. چه هغه ته د خدائے تعالیٰ دیدار حاصلیږی. او د سر په سترګو یې وینی.

اورنګ زیب چه د مذهب ډیر پابند وو، کوهاټ کښې حاجی بهادرؒ ته فرمان او لیږلو چه د حسن ابدال په شاهی دربار کښې حاضر شه. او د عالمانو مخکښې خپله دعویٰ ثابته کړه. په دے حاجی صاحب د پېښور په لار حسن ابدال ته روان شوؒ. پېښور کښې شیخ حبیبؒ کره میلمه شو. د پېښور خلق پرے خبر شو. پیر محمد حسن چه یو لوئ عالِم وو ډیرو نورو عالمانو شیخانو سره د حاجی بهادر په خدمت کښې حاضر شو. صلاح یې ورکړه چه د عالمګیر د دربار علماء به د دوئ دبیان په اسرار او نه رسی. نو بهتره به دا وی چه په ځائے د ځخپله تلو اورنګ زیب ته یو خط ولیږی. مګر حاجی صاحب ځواب ورکړو. "تسلی لرئ. زۀ به انشاء الله کامیاب واپس کیږم. که د هلته خو دا وخت صرف د هندوستان علماء دی. نو هم به د عربستان او ایران علماء هم و رسره مل شی. نو هم به ورته د خپلے خدائے بینئ دعوے صداقت پیش کړم."

د پېښور نه روانیدو په وخت درے سوه عالمان او طالبان ورسره ملګری شو. حضرت حاجی صاحب چه حسن ابدال ته نزدے اورسید. نو ناڅاپه مسکے شو. چا ترے تپوس اوکړو. نو وے وئیل چه مولوی نور محمد مدقق لاهوری او اخوند الله داد دهلوی، د مغل دربار ټولو عالمانو ته دا مشوره ورکړه چه څه وخت زۀ په دربار کښې حاضر شم. نو هیڅوک د ځما احترام په خاطر د خپل ځائے نه پاسی نه.

چه څما زړه مات شي. مګر زړه به مې انشاء الله د خپل طاقت په زور اوچت او درُوم. او هم د غصې اوشوه. د دوئ په لیدو ټول عالمان، درباریان غیر ارادی طور سره اوچت پاسیدل. لکه چه څه غیبي طاقت مجبور کړي وی. او تر ډیره وخته ټول داسې چپ ولاړ وو. لکه چه چا ئې په خولو مهر لګولې وی. بیا حضرت حاجی بهادر صاحب پخپله اوفرمائیل:-

"من قطب وغوثِ این زمانه ام وحق سبحانه تعالیٰ که بیچون
و بے جہت است را به چشم سِرے می بینم نه به چشم سَرے.

ازعطش چون در قدح آبے خورم
در درون آب حق را ناظرم

د دې په اورېدو اورنګ زیب سر را اوچت کړو. او خپلو عالمانو ته ئې او وئیل. چه که څه تپوس کول غواړئ تپوس اوکړئ. اخوند شاه مراد آبادی، اخوند نور محمد مدقق لاهوری. او نورو عالمانو د خپل جادو بیانئ په زور د غلبې مونتلو د پاره تنړئ او شلولې. مګر ټولو بائیلات اومنلو. او د معافئ خواستګار شول.

د دې نه پس تر شپږو ورځو حاجی بهادر صاحب د بادشاه میلمه وو. اورنګ زیب د سید شرف الدین لور رقیه بیګم چه په محل کښې ئې لکه د خپلې لور لویه کړې وه، دوئ ته په نکاح کړه. او په داج کښې ئې ورله یو زرجریبه زمکه په کوهاټ کښې، یو زرجریبه زمکه په

پېښور کښې او یو زرجریبه زمکه سره د یو اَرټ په وزیرآباد کښې ورکړه. د دې نه علاوه اورنګ زیب ورته مستقل طور سره په لاهور کښې استوګنې د پاره اُو وې. ولې حاجی بهادر صاحب په دې صلاح رانغله. خپل ځوئې حاجی عمر شاه ئې لاهور کښې پرېښود او خپله کوهاټ ته راستون شو. مقبره ئې په کوهاټ کښې د ښهر منځ کښې ده.

مزار سره جخت ئې یو لوئې جماعت دې. د جماعت اول د لرګې وو. مګر اوس ئې سره دوباره ډیر فراخه جوړه دی.

فراست

حضرت جنید بغدادی خپلو مریدانو کښې د یو تن سره به د امتیاز سلوک کولو. په دې نورو مریدانو ګله اوکړه. وې "ده کښې فراست ستاسو نه زیات دې." بیلې ټولو مریدانو ته یوه یوه چرګه او یو یو چاړه ورکړه چه داپه داسې ځائې کښې حلال کړئ چه هیڅوک مو او نه ویني.

مریدان لاړل. یو ساعت پس ټولو خپل خپل حلال کړي چرګان راوړل. مګر هغه یَو [illegible] ژوندې راواپس کړو. وې "ولې دِ ذبح نه کړو؟" مرید ځواب ورکړو: "خدای هر ځائې حاضر ناظر دې چرته لاړ شم چه هیڅوک م او نه ویني." په دې حضرت جنید نورو مریدانو ته اووې: "او مو لیدل. وایئ اوس مو څه خیال دې؟"

شرح لیکلے دہ۔ دے نہ علاوہ توضیح المعانی یعنی شرح خلاصہ کید انی منظوم پښتو کښے د عربۍ نہ ترجمہ کړہ۔ دے کتاب کښے ئے خپل تخلص فقیر لیکلے دے۔ د دوی یو بل کتاب "خزینۃ الاسرار" دے۔

درے ځامن ئے وو۔ (۱) میانګلؒ۔ (۲) محمدی اخونزادہ یا صاحبزادہ۔ (۳) عبید اللہ۔ محمدی صاحبزادہ یو عالم شاعر او علم دوست سړے وو۔ دے ئے سجادہ نشین وو د خدائے کارونہ دوارہ ځامن ئے میرات وو۔ ځکہ سنہ ۱۲۲۰ھ کښے د محمدی صاحبزادہ نہ پس میانګل عبید اللہ او سنہ ۱۲۳۳ھ کښے د هغۀ په وفات آخر کښے د محمدی اخونزادہ تبر سیّدہ بی بی د حضرت د جائداد مالکہ شوہ۔ د میاں عمر صاحب قبر هم دے سیدے بی بی پوخ کړے دے۔ او چار چاپیرہ ترے دیوال هم دے چاپیرہ کړے دے۔ چار دیوارئ کښے دننہ منجورانو د پارہ کوټګئ او دالان هم دے۔

والئ چہ میاں محمد موسیٰ او عیسیٰ نہ هم څہ اولاد نہ وو پاتے شوے۔

احمد شاہ بابا او ځامنو نہ علاوہ دګجروګړئ ملا عبد الحکیمؒ دا ګرے (چارسدہ)، حاجی فضل اللہ۔ ارباب معز اللہ خان۔ حافظ شیر محمد صاحب (بنوں) او محمد اخونزادہ (رستم) د دوی مشهور خلفاء وو۔

تاریخ وفات ئے رجب سنہ ۱۱۹۰ھ یادیږی۔

لہ عبد الحلیم اثر میانګل او عبید اللہ یو ګڼړی۔

محمد شعیب صاحب

(د تور ډیری)

محمد شعیب صاحب د اصلہ د رانے دے۔ د دوی والد صاحب رفیع القدر چہ په حافظ ګل صاحب مشهور دے۔ او د دوی نیکۀ غازی بابا احمد شاہ بابا سرہ هندوستان تہ راغلے وو۔ احمد شاہ بابا چہ څہ وخت واپس تلو څہ ملګری ترے هم د لتہ پاتے شو۔ حافظ ګل صاحب ترے تور ډیری تہ راغلے او هم د لتہ حصار شو۔ د محمد شعیب صاحب مور د صوابئ د اخون صاحب لور وہ۔


د خمکنو میاں عمر صاحب د اوخت (لاړوندے) وو۔ د دوی ورسرہ تلۀ راتلۀ وو۔ حافظ ګل صاحب به کلہ کلہ محمد شعیب صاحب هم ځان سرہ خمکنو تہ بوتلو۔ میاں صاحب به اکثر وے "دے هلک تہ به خدای پاک لوے مرتبے ورکوی"۔ د دوی درے روڼړہ نور هم وو۔ یو (محمد اسلم) میرنے وو۔ او دوہ (محمد زبیر او محمد عزیز) سکہ وو۔

دغہ زمانہ کښے د هشنغر په علاقہ عمر زو کښے حافظ محمد

باباجی صاحب سوات

نوم ئے عبدالغفور. پیدائش ئے سنہ ۱۲۱۳ھ مطابق
سنہ ۱۷۹۴ء علاقہ شامیزئی کښے چہ په چیری یا چیړو کلی مشهور دی کښے پیدا شوی.
د اصله صافی مهمند دے. په وطن کښے چه ابتدائی تعلیم ختم
کړو. نو سمے تہ راکوز شو. تورډیری کښے ئے محمد شعیب
صاحب ته لاس نیوه اوکړه *. او بیاد اباسین په غاړه بیکی
نومے کلی کښے تر دولسو کالو چله کشی اوکړه. سنه ۱۸۲۸ء
کښے د بیکی نه اول قاسمی او بیا سپلبانړے ته راغے. دلته
سنه ۱۸۴۵ء کښے د میاګانو په کورنئ کښے ئے واده اوکړو.
دا هغه زمانه وه چه په هندوستان کښے انګریزانو
خپلے پښے مضبوطولے او په سرحد کښے د سکهانو غوبل وو.
او عاشقانِ اسلام د سید احمد بریلوی او حضرت
اسمٰعیل شهید د اسلامی جهنډو تر لاندے راجمع
شوی وو. باباجی صاحب د سید احمد بریلوی هر ممکن
امداد اوکړو. او د امیر کابل دوست محمد خان په ملګرتیا
کښے سنه ۱۸۳۵ء کښے پېښاور څخه نزدے شیخانو کلی کښے د جهاد اعلان
اوکړو. دا وخت په پېښاور د سکهانو قبضه وه.
سنه ۱۸۴۹ء انګریزانو سکهانو ته شکست ورکړو. او په

* د ګنج حافظ محمد عظیم نه ئے هم خلور کاله درس آخستے وو.



مزار حضرت باباجی صاحب رح سوات

پېښور ئے قبضه اوکړه ـ د پېښور د قبضے نه پس دانګریز
سترګے په ملاکنډ، سوات او بُنیر وے ـ ځکه باباجی د
دے علاقے د خلقو په امداد یو باقاعده مسلح فوځ اودرَلو
او په دے علاقه کښے د شرعی حکومت یعنی شریعت اعلان
اوکړو ـ د ستهانے سید اکبر شاه چه یو تجربه کار سپاهی
وو، او د سید احمد صاحب مشیر جنګ پاتے شوے وو.
د دے حکومت مشر چوڼر کړے شو ـ مګر اول د دے
نه چه دهٔ د خپل حکومت مستحکم کړے وے، په ۱۸۵۷ء
کښے دے حق ته اورسید.

ستمبر ۱۸۶۳ء د انګریزی فوځ یوه دسته د ښکار
په بهانه بُنیر ته لاړه ـ مګر د دوئ مقصد په سوات
بُنیر او ملاکنډ قبضه وه. ځکه اخوند صاحب سره د اُوهٔ
زره ملګرو مقابلے د پاره میدان ته وراو د انګل. انګریز
ځنه داوخت لس زره فوځ او توپخانه وه. د اسلامی فوځ
کمان د ملکا سید مبارک شاه او عبد الله چه د هندوستانی
فوځ کماندار وو ځنه وو ـ د امبیلا او ملکا په علاقه ښه
جنګ اوشو. انګریزو ډیر نقصان اوچت کړو. او ځکه ئے
بیا دے طرف ته هډو او نه کتل.

۱۸۶۶ء کښے د امیر کابل شیرعلی خان په ملګرتیا
کښځئے یو ځل بیا د جهاد اعلان اوکړو. مګر ژوندئے وفا
او نه کړه ـ او په ۱۳ جنوری ۱۸۷۷ء* د امجاهد صوفی

* مطابق ۷ محرم الحرام ۱۲۹۵ھ

په اُو به د خوب اُودهٔ شو ـ مګر هم د دوئ د کوششونو
برکت وو چه سوات بُنیر او باجوړ وغیره د انګریز د
لاسه بچ پاتے شول.


دوه ځامن ترے پاتے شو یو میانګل عبد الحنان
او دویم میانګل عبد الخالق د اخوند صاحب مزار هم
په سیدو کښے زیارت ګاهِ خاص و عام دے.

جمال الدین افغانی د دوئ متعلق لیکی:-
"........ په دوئ کښے یو شیخ عبد الغفور
هم تیر شوے دے چه د افغانستان نه علاوه
تر بخارا ئے د اقتدار جال خور وو. دا یو زاهد
او عابد سړے وو. انتهائی ساده ژوند،
بسر ئے تیرولو. په ټوله علاقه کښے احکام او
فرمان جاری وو. او فتوے ئے مستند ګڼړلے
شوے. په انګریزانو ئے څو ځله هېه اوکړه
او فتح ئے بیا موند. مجلس کښے به ئے هر وخت
بے شمیره خلق ناست وو. او په عوام کښے په
اخوند صاحب مشهور دے. په شریعت اسلامیه

له د سوات موجوده والی صاحب د دوئ سره سلسله دا رنګ
جنګیږی)- عبد الحق جهانزیب ځوئے د میانګل صاحب عبد الودود
ځوئے د عبد الخالق ځوئے د عبد الغفور المعروف په اخوند صاحب سوات -

په سختئ سره پابند وو"

د دوئ کثر خلفاء پاتے شو. چه اکثرو پکښے د سید احمد بریلوی او شاه اسمٰعیل شهید د وهابی خیالاتو په رد کښے کتابونه اولیکل. (شاید هم ځکه د دوئ ذکونه مُلا صاحب" ته به چه د مجاهد ینو مل وو، وهابی ویل) په دوئ کښے مولوی محی الدین نوشهروی، د هډے مُلا صاحب نجم الدین او د پینبور ښهر مولوی نصیر احمد صاحب چه په میانصاحب قصه خوانی مشهور دے، قابلِ ذکر دے. د میانصاحب یو کتاب "احقاقِ حق" د شاه اسمٰعیل د تقویة الایمان رد کوی.



دعلم قدر و قیمت

حضرت عطار یو حبشی غلام وو. خلیفه سلیمان عبدالملک چه د حج د پاره مکے ته راغے، نو سره د خپلو دوو ځامنو د د عمرئ په خدمت کښے حاضر شهٔ. او د حج مسائل ئے ترے اوپوښتل بیائے خپلو ځامنو ته اُووے. علم سره شوق سا تئ. اوګورئ عطار یو مریئے دے. مګر مونږ د دوئ په خدمت کښے حاضر شوی یو. دا ټول د علم برکت دے.

پیر مانکی شریف
حضرت عبدالوهاب صاحب

نوم ئے عبد الوهاب د پلار نوم ئے ضیاءُ الدین وو. د اکوړی او سید ونګے وو. ورستو بیا دوئ بدرشو ته راغلل. دوئ ټول درے رونړه وو. د پلار د مرګه پس د نوښار او اکوړی ترمینځ ډیری سي خیلو بانډے ته په کډه راغلل.

دوئ د سوات باباجی نه په قادریه سلسله کښے لاس نیوه کړے وه. او د اصیلے په غزا کښے سوات صاحب سره شنګ په شنګ جنګیده. روستو بیا سنه ۱۲۹۶ه کښے دوئ هم د پیرئ مریدئ سلسله شروع کړه. کلی په کلی به ګرزیده او امر بالمعروف به ئے کولو.

ډیری کتی خیلو کښے دوئ ته د اوبو ډیر تکلیف وو. ځکه دوئ بیا د پیر په اجازه مانکی ته راغلل. یو ورور ئے هم هلته پاتے شو، او بل خویشګو ته په کډه لاړو. وائی چه دوئ څه مُده مالاکنډ ایجنسئ کښے او سپینخړی په مقام هم پاتے شوی وو. دلته یو کور او جماعت د دوئ د یو صاحبزاده سره منسوب دے. روستو بیا د دوئ

عبد القیوم صاحب (د اوسپنځرو صاحب) هم دلته میشته شو.

د مانکی شیخانو به هم لکه د خپل پیر امر بالمعروف کولو. خلق به یې د چلم او نسوارو نه منع کول. تیغې به یې تل د ځان سره ګرځوله. چه چا به سر یا سمګې پریښې وې. و ییښته به یې ورله په تیغې بوږې کړل.

د کاکا صاحب کلی خوا کښې یو غټ ګټ وو چه د چا به یاد وو، ځان به یې ور سره مړلو. مانکی صاحب دا ګټ مات کړو. په دې د مانکی بابا او د کاکاخیل میاګانو ترمینځ خفګان شان راغې. چه بیا اوس اوس سیاسی اغراض و مقاصد ترمخه ختم کړې شو.

د هډې مُلا صاحب (حضرت نجم الدین) د دوی پیر بهائی وو. مګر دوی سره د اشارت په مسئله چه سنت دې که نه اختلاف راغې. روستو بیا عبد الحق (ثانی صاحب) په دې سلسله کښې د عقائد المؤمنین په نوم په پښتو کښې یو کتاب اولیکلو.

د غه زمانه کښې په ملاکنډ انګریزانو سره یو بله غزا اونښته. هډې ملا صاحب میدان ته را اودانګل مګر د مانکی صاحب بعض مریدان به دا موقع دوی نه پیرشا شول. داسې مانکی صاحب مجبوراً هم غزا کښې مناسبه حصه وانخیستې شوه. په دې ډیر خلق د دوی نه بدګمانه شول.

عبد الوهاب صاحب نه دوه کتابونه ترموږ. وارسید لی دی. (۱) احکام المذاهب. (۲) هدایة الابرار.

د دوی یو کم سل خلفا یادیږی. دوه ځامن عبد الحق (ثانی صاحب) او عبد القیوم صاحب (اوسپنځرو صاحب) هم د دوی خلفاء وو. دې نه علاوه درې ځامن (عبد الرازق حاجی ګل صاحب. عبد الرحمن صاحب او عبد الواسع صاحب) او دوه لوڼړې یې هم وې.

تاریخ وفات یې ۱۹ شعبان سنه ۱۳۲۲ھ مطابق اکتوبر سنه ۱۹۰۴ له یادیږی. مزار یې په مانکی کښې دې. د پلار نه پس د عبد الحق ثانی صاحب په اتفاق د ستار بندی اوشوه. د ثانی صاحب په وینا د پیرسبائی کرامت شاه صاحب په پښتو کښې یو منظوم کتاب ګلزار ولایت اولیکلو چه په کښې د مشر پیر صاحب مناقب او کرامات بیان کړې دی.

موجوده پیر صاحب د ثانی صاحب کړوسې دې. مګر دوی د پیرۍ مریدۍ سره سره په سیاسیاتو کښې هم اوس کوټې دی.

حاجی صاحب ترنګزئ

د دوئ اصلی نوم فضل واحد دے. ۱۸۵۸ء سنه کښے فضل احد صاحب کره په ترنګزو کښے اوزیږیده. ځکه په حاجی صاحب ترنګزی یادیږی.

والئ چه د هډے نجم الدین اخونزاده نه ئے په قادریه سلسله کښے لاس نیوه کړے وه. اکثر به په امر بالمعروف کښے مصروف وو. د دینی مدرسو اجراء ئے اوکړه. وعظونه. د بدو رسمونو اصلاح او د شریعت اجراء په کوششونو کښے به ئے اکثر وخت تیریده. ۱۹۱۳ء سنه کښے د ترنګزو نه بهر په یوه غونډئ د یو جماعت بنا کیښوده. او بیا به ئے ناسته پاسته هم هلته کوله. دا وخت بیا عبد الغفار خان (فخر افغان) هم دوئ سره ملګرے شو. مګر حکومت (انګریزی) د دوئ دے تعمیری کارونو ته په ښه نظر نه کتل. ورپسے ۱۹۱۴ء سنه کښے د جرمنی جنګ اونښتو. انګریز دا وخت په هندوستان کښے اکثر مذهبی او سیاسی مشران، چا نه ئے چه څه هم خطره کیده، اونیول. حاجی صاحب پسے هم وارنټ جاری شو. مګر دوئ

شپه په شپه د هرچند په لار رستم او بیا بونیر او باجوړ ته واوړیدل. او بیا څه موده پس مهمندو ته په کډه لاړل. ۱۹۱۵ء سنه کښے غیر علاقے ته اوړیدو نه اول ئے د اسلامیه کالج د جماعت بنیادی تیږه هم دوئ ایښے وه.

غیر علاقے نه حاجی صاحب څو څو وارے په انګریزانو حملے اوکړے. د امان الله خان په زمانه کښے یو وار کابل ته هم تلے وو.

مګر آخر په ۱۴ دسمبر ۱۹۳۷ء سنه کښے فوت شهٔ. او غازی آباد کلی کښے، چه هم دوئ آباد کړے وو د غازی خادرو ته او سپارلے شو. اولاد ئے اوس هم په مهمندو کښے میشته دے.

د دے ځامن او دوه لونړه ترے پاتے وے. بادشاه ګل فضل اکبر. فضل شاه صاحب او فضل معبود صاحب لونړے ئے په ترنګزو کښے وادهٔ وے.

حاجی صاحب ټول عمر انګریزانو سره جهاد اوکړو. ځکه حکومت د دوئ په ځامنو هم پابندی لګولے وه. مګر ۱۹۴۷ء سنه کښے چه پاکستان جوړ شو. د دوئ نه پابندئ لرې کړے شوے. او د اسے دوئ یو ځل بیا خپل وطن ته واپس راغلل.

دو. مریدانو ته به ئے وے. که څوک مانه کافر هم اووائی نو تاسو ځواب مه ورکوئ.

وصال ئے په ۵ ذی الحج سنه ۱۳۴۲ھ د جمعے په شپه یادیږی. د دوئ په خلفاؤ کښے زیات مشهور مولوی صاحب عبدالمنان د پلوسئ، مولوی سعید الرحمٰن صاحب د پیبنور، حافظ غلام محمد صاحب د پنډ سلطانی، مولوی محمد یعقوب صاحب مدرس ډهاکه. مولوی پائنده ګل د سوات. مولوی رحمان الدین صاحب د پړانګو. سید زرغون شاه د ګلګت. او حاجی عمران وغیرهم دی.

پنځهٔ خامن ترے پاتے شوی وو. د پلار د مرګه پس عزیز الرحمٰن صاحب د پلار په مصلے کیناست لکه د پلار د دوئ هم چترال کښے ډیر عقیدتمند شته. هم د دے صاحب زاده د لاس یو تاریخ "حبیب السیر" د چترال شاهی کتب خانه کښے موجود دے.

هسے ګرم بل بازار په جهان نشته

کله ګرم بے بازار د درویشانو

(رحمان بابا)

د هډے ملا صاحبؒ

نوم ئے نجم الدین دے. غزنی ته نزدے د شیلګرم نومے علاقے او سیدونکے وو. په قام سلیمان خیل یادیږی. ابتدائی تعلیم کور کلی کښے حاصلو نه پس د تعلیم په سلسله کښے اول غزنی، بیا کابل او جلال آباد ته لاړ. او په آخر کښے ئے جلال آباد څخه نزدے "هډه" نومے کلی کښے ډیره واچوله. په دغه زمانه کښے دا علاقه په مثال د یو علمی مرکز وو. دوستو بیا هم د دغه کلی په مناسبت سره د دوئ نوم "په هډے ملا صاحب" مشهور شو.

دوئ د سوات باباجی صاحب نه په قادریه سلسله کښے لاس نیوه کړے وه. او د هغوئ په نامتو خلیفګانو کښے یادیږی. لکه د خپل مرشد د عمر اکثر حصه ئے د انګریزانو بر خلاف په جهاد کښے تیره کړه. په دے غزاګانو کښے د اسلامی لښکر رهنمائی او بیرغ بړ تل د دوئ په لاس وو. او سنه ۱۹۰۲ء کښے چه وفات کیده نو خپل د غزا سنت ئے د ترنګزو حاجی صاحب ته چه د دوئ ماذون وو، پرینښود. د مالاکنډ او شبقدر په غزاګانو کښے د دوئ توره او مړانه د ستائینے قابل ده.

د لوئے برخے خاوند وو۔ د دزم نہ علاوہ پہ بزم کښے پہ مثال د یو بیندہ سیند ؤ۔ چہ هر یو تږی بہ پرے خپلہ تندہ ماتولہ۔ پہ زرګونو مسلمانانو ترے فیض حاصل کړو۔ او د دوئ پہ لاس ئے تربیت بیاموند۔

تاریخ وفات ئے سنہ ۱۹۰۲ء دے۔ مزار ئے پڑهدہ کښے دے۔ پہ خلفاؤ کښے ئے د یو څو نوم ونہ دا دی:۔

(۱) د تُرنګزو حاجی صاحب۔ (۲) د چکنور ملا صاحب۔ (۳) د بټخاک حضرت صاحب۔ (۴) د تګاؤ مُلا صاحب۔ (۵) د شنوارو عالم ګُل صاحب۔ (۶) د سر کانړو میاں صاحب وغیرهم۔

او داسے بیا هم د دوئ نہ خدائے پاک د ملتِ اسلامیہ د اصلاح او د اسلام د تبلیغ او اشاعت کار واخست۔

وَالسَّلَامُ عَلیٰ مَنِ اتَّبَعَ الْهُدیٰ

تازہ خواهی داشتن گر داغهائے سینہ را
گاهے گاهے باز خواں ایں دفتر پارینہ را

کتابیات

(۱) انوار اصفیاء طابع شیخ غلام علی۔
(۲) انوار اولیاء رئیس احمد جعفری
(۳) سکینة الاولیاء دارا شکوہ
(۴) اخبار الاخیار شیخ عبد الحق محدّث دهلوی۔
(۵) خزینة الاصفیا حصہ اول ودوم۔ مفتی غلام سرور لاهوری۔
(۶) آب کوثر۔ رود کوثر۔ شیخ محمد اکرام
(۷) سیرت سید احمد شهید وجماعت مجاهدین۔ غلام رسول مهر۔
(۸) تذکرہِ صوفیائے پنجاب و سندھ۔ اعجاز الحق قدوسی۔
(۹) علمائے هند کا شاندار ماضی جدید۔ سید محمد میاں۔
(۱۰) تذکرہُ اولیاء۔ مطبوعہ ادبستان۔
(۱۱) تذکرہِ اولیاء هند و پاکستان۔ ولی حسن تونکی۔
(۱۲) شاہ عبد اللطیف (انگریزی) ترهی داس هتچند۔
(۱۳) تذکرة الابرار والاشرار۔ اخوند درویزہ۔
(۱۴) تذکرہ علماء ومشائخ سرحد حصہ اول۔ محمد امیر شاہ قادری۔
(۱۵) تذکرہ شیخ رحمکار۔ سید سیاح الدین کاکاخیل۔

(۱۶) یوسف زئی پٹھان ۔ اللہ بخش یوسفی ۔
(۱۷) نظم الدرر فی سلک سیر ۔ ملا صفی اللہ ۔
(۱۸) اولیاء سرحد (پمفلٹ) نصر اللہ خان نصر ۔
(۱۹) اولیاء اللہ (پښتو) مطبوعہ پاکستان پبلیکیشنز کراچی ۔
(۲۰) عرس او میلے ۔ ارمان سرحدی ۔
(۲۱) ځلنده ستوري ۔ سناء الدین کاکاخیل ۔
(۲۲) حکایات اولیاء ۔ مولانا اشرف علی تھانوی ۔
(۲۳) رسالہ آستانہ دہلی ۔
(۲۴) رسالہ اولس کوئٹہ ۔
(۲۵) رسالہ استقلال ۔ لاہور ۔
(۲۶) رسالہ جمہور اسلام پشاور ۔
(۲۷) اخبار جنگ (راولپنڈی)
(۲۸) اخبار انجام (پشاور)
(۲۹) اخبار ہمدم (کوہاٹ) ۔

مینه د خدائے د رسول بنده ده
دا نورے مینے لباسې خادرے بر شینه

